



**بلز پاسکال:**

هغه فرانسوی فیلسوف، اختراع کونکی، ریاضی پوه، فزیک پوه، الهیات پوه او تکړه لیکوال وو، چې د جون میاشتې په (۱۹) مه، پر (١٦٢٣)زېږدیز کال د فرانسې د پاریس په ښار کې د «کلرمونت» په سیمه کې زیږیدلی دی. په شپاړس کلنۍ کې یې د تصویري هندسې یوه قضیه ومونډله او کشف کړه، چې وروسته د پاسکال قضیې په نوم ونومول شوه. نوموړي هماغه کال د ( مخروطي مقاطع ) په نامه یو کتاب ولیکه. پاسکال د دې کتاب په لیکلو سره ډېر زیات نامتو شو. ځوان پاسکال د ریاضي پوهانو او عالمانو له یوې ډلې سره د «مرسن د دایرې» په اړه په یوه اوونیزه غونډه کې ګډون وکړ. کله چې د دې نابغه کتاب د ډکارت لاس ته ورسېده، نو دا یې نه شو منلی او وې ویل: دا هېڅ امکان نه لري، چې یو شپاړس کلن هلک دې، پرته له دې، چې د ریاضیاتو د ښوونکو تر لید او نظر لاندې ښوونه او روزنه ووینې، داسې کتاب ولیکي، خو وروسته له دې، چې ډاډه شو، نو د هغه نبوغ، لوړتیا او استعداد یې وستایه. پاسکال په هغه دوران کې د هندسې په اړه یوه مقاله ولیکله او هغه یې د ریاضي پوهانو په یوه غونډه کې د هغوی حضور ته وړاندې کړه، چې د ټولو د پام وړ وګرځېده. په هندسه او ریاضیاتو کې د فعالیت سربېره هغه په فزیک کې هم څېړنې کولې. پر (۱۶۴۰) ز کال کې یې د حساب ماشین اختراع کړ، چې په دې اختراع سره یې ټول حیران کړل، یادې اختراع، پاسکال لاپسې نوموتی کړ. پاسکال د فزیک په برخه کې ډېر نور کشفیات هم کړي دي. په ریاضیاتو کې د پاسکال ترټولو مهم نوښت د "احتمال نظریه" وه. دا تیوري چې په لومړي ځل په قمار کې کارول شوې وه، نن ورځ په اقتصاد او په ځانګړي توګه د احصایوي علومو په برخه کې خورا مهم ارزښت لري. پاسکال نه یوازې یو ریاضي

پوه، فزیک پوه او مخترع وو، بلکې یو فیلسوف او مذهبي لیکوال هم ګڼل کېده او څو کتابونه یې د بېلګې په ډول د «د ایالتونو لیکونه» او د « اندونو او افکارو » کتاب یې د مسیحي مذهب په برخه کې ولیکه. د ادبیاتو په برخه کې، پاسکال د فرانسې د کلاسیک دورې یو له خورا مهمو لیکوالو څخه هم ګڼل کیږي، او د هغه نښیرونه(اثار) نن ورځ د فرانسوي د نثر د غوره نښیرونو(آثارو)په توګه ګڼل کیږي.

لنډه دا چې بلز پاسکال یو له پېژندل شویوو فرانسوي ساینس پوهانو او فیلسوفانو څخه دی. هغه وتوانیدو چې په ساینس کې ډیرې تیورۍ، موندنې او کشفونه ولري. پاسکال ډیر فلسفي، ساینسي او منطقي لید توګي او نظریات وړاندې کړې دي. پاسکال په (۳۹)کلنۍ کې د هغې ناروغۍ له امله، کومه چې په ماغزو کې یې رامنځته شوې وه، د اګست میاشتې په (۱۸)مه پر (۱٦٦۲)ز کال په پاریس کې له دې نړۍ څخه د تل له پاره سترګې پټې کړې.

**دا هم د بلز پاسکال ګڼ شمېر ګټورې او مهمې ویناوې او خبرې:**

- د معرفت تږي، له څښتن پرته په بل هیڅه نه خړوبیږي.

- د هوښیار انسان شتمني د هغه علم او پوهه ده.

- د انسان ټول مقام، لویوالی او عظمت په اند و فکر کولو کې دی.

- هر څومره چې د یو انسان اند و فکر لوړ وي، هغومره د نورو د افکارو درناوی کوي.

- اندو فکر د انسان په ټول ژوند کې لوی ملاتړ دی، او بې اندو فکره انسان بې روحه مادې ته پاتې کیږي.

- مینه هغه دلایل لري چې عقل پرې نه پوهیږي.

- د مینې او محبت خبرې ډیر لګښت نلري، خو دوی ډیرې لاسته راوړنې لري.

- وخت د درد او رنځ درملنه کوي.

- موږ دا نه خوښوو چې د نورو لخوا دوکه شو، خو موږ د نورو له غولولو څخه هم نه زده کوو.

- موږ باید خپل کار د ښه اند و فکر پر بنسټ جوړ کړو.

- د انسان ټول لویوالی او دبدبه د هغه په اندو فکر کې دی.

- د ټولو فسادونو سرچینه وزګاري او بېکاري ده، شیطان د وزګاره او بېکاره لاسونو لپاره کار تیاروي.

- د فسادونو سر چینه بیکاري او وزګاري ده، هر حکومت چې غواړي په خپل هیواد کې د فسادونو جرړې او رېښه وباسي د خلکو لپاره دې کار وموندي.

- هر څه چې وایئ، پوه شئ چې چاته یې وایئ.

- دوه شیان د انسان طبیعت کنټرولوي، غریزه، آزماېښت او تجربه.

- د عقل او استدلال  لویه دنده دا ده چې خلکو ته وښیي چې ځینې شیان له عقل څخه بهر دي.

- د انسان ټول لویوالی او عظمت په اندو فکر کې دی.

- نیاو(عدالت) او حقیقت داسې نازک ټکي دي چې زموږ وسایل دومره کمزوري دي چې په سمه توګه یې وپیژني.

- قضاوت وېره نه لري، په آړ(شرط) د دې چې وجدان او ضمیر ویښ وي.

- د انسان د نیکمرغۍ اټکل او اندازه باید د هغه په ځانګړو هڅو نه، بلکې د هغه د منظمو کړنو له لارې اټکلیدلی شي.

- که خلک پوهیدلی چې دوی د یو بل تر شا څه وایي په نړۍ کې به خامخا څلور ملګري هم پاتې نه وای.

- ایا تاسو غواړئ چې خلک ستاسو په اړه ښه اند و فکر وکړي؟ نو د خپل ځان ستاینه مه کوئ.

- زړه خپل دلایل لري، چې د هیڅ شي منطق پرې نه پوهیږي.

- زه زیږیدلی وم او زه نه پوهیږم چې ولې؛ ما ژوند کاوه او نه پوهېدم چې څنګه ژوند وکړم؛ زه اوس مړ کېږم او نه پوهیږم ولې؟!

-  څرنګه چې موږ نشو کولی د هر څه په اړه پوه شو، نو موږ باید د هرڅه په اړه لږ څه پوه شو.

- نیاو(عدالت) او ځواک باید یو ځای وي، نو هر څه چې عادل وي ځواکمن وي، او هر څه چې ځواکمن وي عادل وي.

- هغه څوک چې په برید او مقابله کې ځان له لاسه نه ورکوي او له سختیو سره مخامخ کیږي خوشحاله او نیکبخته سړی دی.

- د ټولو بدیو سر، وزګاري او بیکاري ده. هر حکومت و دولت چې غواړي ټولنه له بدیو وژغوري د هغې وګړیو ته دې کار وموندي.

***

**په درنښت او مينه: انجنير عبدالقادر مسعود**